AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۴/۲۷

# فیض د سحر

نه پوهـیږم، چي تصــور راته د چــا ورســـيد
چي مې دمـاغ ته د هـــوس، بوی د سبا ورسـيد

له کيـفيت نه د ســـحر او فــــيوضاتو د قـد س
د محـــبت پيـغام مې زړه تـه، له آشـــنا ورسـيد

چي د معنـی په عـالمونو خــپل پـرواز کړم اوچت
ســير د خيـــال ته مـــی، وزرونه د همـــا ورسـيد

د عبـادت نه کمه نه ده، ژور ســوچ پـه خپل حال
دغـه ارشــــاد له رمــوزاتـو، د دنــيا ورسيد

هلـته چي ورک وم پـه سوچـونو د هسـتي او فنا
يا ربــه! څنـگه ستـــا پيـغام زړه ته زمـا ورسيد

اغزن ماحـول په ګلـستان، د مــعرفت شو بـدل
د مصلـــحت قـــدم چي هلـــته، د دانـا ورســيد

چي خار و خس څخه راتول کړم، د عبرت نښاني
د زړه غوړونـــو تـه مې، تـــکي د معنـی ورسيد

رمز د ويـنـاوو، په خپل مينځ کــي د بلبل او د ګل
پيـام د دواړو زمـا ذهـن تـه رسا،  ورســـيد

رندان لــه خــپلو طــالو، ډکي پيـــالي وڅښــلي
د ســاقي تشـــه پيـمانه شوه، چي پـــه ما ورسيد

زمـــاني هري خـوا و تـولو ته خـنـدا غوره کړه
ما ته په تول ژوندون، پـــه وير او په ژړا ورسيد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ